شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**د حديث شريف ژباړه:**

رسول الله ﷺ فرمايلي دي؛ كه غواړئ، چې ملائيكې د خير او بركت دعا درته وكړي، نو د خپل مسلمان ورور ته د هغه په نشتون كې د خير دعاء وكړئ. (صحيح المسلم ۲۷۳۲)

**رسول الله ﷺ مى فرمايد:**

اگر ميخواهيد فرشته ها براى تان دعاى خير و بركت بكنند، در غياب يک برادر مسلمان تان براى او دعاى خير كنيد.
(صحيح المسلم ۲۷۳۲)

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


شنبه | د ربيع الاول ۲٦-۱٤٤٦ل س/ د تلې ۸-۱٤۰۳ل ل/ د سيپتمبر ۲۹-۲۰۲٤ز/خلورم كال / ۱۱۷ گڼه/ ٤ مخيزه ۱


## سر مقاله

## د افغانستان له دروازې په مركزي اسيا كې پراخه سوداګري

افغانستان د اسيا په مركزي برخه كې پروت په وچه را ښكېل هيواد دئ، خو د ځمكنۍ سوداګرۍ لـه پـاره د ثقـل مركـز او د اسـيايي هيوادونو د ټرانزيـټ لـه پـاره بې بديله لاره ده. د افغانستان او د مركزي اسيا هيوادونو ترمنځ د سوداګرۍ لمن ورځ تربلي پراخېږي، چې ارزښت ئې ميليونونو ډالرو ته رسېږي. تېره اونۍ د افغانستان او تركمنستان پر ګډه پوله د دواړو هيوادونو ترمنځ ګډ بازار جوړ او د دواړو خواوو توليدي توكي پكښې ننداري ته وړاندي سول، چې په دغه كار سره به د افغان او تركمن سوداګرو اړيكي لا هم پراخي او د سوداګرۍ تجربې سره شريكي سي. په ټوليز ډول د افغانستان او اسيايي هيوادونو د بريښنا د سوداګرۍ ارزښت په(۲۰۲۲)ز كال كې (٤,٤) ميلیارډه كيلواټه ساعته مبادله سوې، چې نور هم د پراخېدو په حال كې دی او اسلامي نظام وكولای سول، چې د تېرې اداري په ميليونونه افغانۍ د بريښنا پور اداكړي او د خپل اعتبار په زياتولو سره په دې برخه كې متقابله سوداګري لا پراخه كړي. له بل پلوه په افغانستان كې د يو شمېر سترو زېربنايي پروژو را روانه لړۍ او د افغانستان له لاري ئې مركزي اسيا ته انتقال له ګاونډيو هيوادونو سره په اقتصادي بهير كې بې ساری مثبت اغېز كوي، اړيكي پراخوي، ملي عوايد لوړوي او سويلي اسيا ته د انرژۍ د لېږد بهير اسانه كوي. د دغو پروژو چاري د مركزي اسيا په سيمو كې تر ډېره بريده بشپړي سوي دي او د افغانستان په خاوره كې د اسلامي نظام له راتګ سره بشپړ چمتو والى ورته نيول سوى دئ، چې له دې جملې د ټاپي پروژې چاري هم څه موده وړاندي د افغانستان تركمن لوړ پوړو چارواكو په حضور كې پيل او پرانيستل سوې. دغه پروژې، چې د افغانستان او سويلي اسيا لپاره د دوه اړخيزه سوداګرۍ او راكړي وركړي په برخه كې حياتي رول لري (TUTAP، CASA-TAP،۱۰۰۰ اوTAPI*) دي. يادي پروژې د افغانستان او د سيمې له پاره اوږد مهاله اقتصادي او د انرژۍ ثبات رامنځته كوي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه كوي، چې د انرژۍ د توليد، ودې او دوام له پاره د سيمې له هيوادونو سره همغږي او مشتركه تګلاره رامنځته كړي، ترڅو د حرارتي انرژۍ، كانونو د استخراج او په دې برخه كې د پانګوني پراخه زمينه برابره كړي. همدا وجه ده، چې ډېر سيمه ييز هيوادونه او د خصوصي سكټور پانګوال افغانستان ته د ډاډمن امنيت په راتګ سره پانګوني ته زړه ښه كوي، چې له دې ډلې څخه هند، چين، روسيه او د افغانستان د شمال لوري ګاونډي هيوادونه په ځانګړي ډول تركمنستان او ازبكستان دي. د افغانستان په ګډون د مركزي اسيا هيوادونه د سيمه ييز يووالي په لوري ګام اخلي او د بريښنايي سيستم له لاري د سيمه ييزي سوداګرۍ متحد كولو ته لاره هواروي، چې كولای سي افغانستان په دغه سيستم كې د سوداګرۍ له زاويې ښه وځلېږي او له مركزي اسيا څخه سويلي اسيا ته د صادراتو له پاره تر ټولو اغېزمن، نيږدې او ارزانه تمام سي. كه څه هم اقليمي بدلونونه، اوبو ته نه لاسرسى، د نويو زېربناوو نه شتون او د بريښنا كمښت يو څه نا څه پر دغه بهير منفي اغېز اچوي، خو د ګډو هيوادونو متحدانه پرېكړه په ستونزو برلاسى پيدا كولای سي او افغانستان كولای سي په غوره سوداګريزه لاره بدل سي، زيات كلني عوايد ترلاسه كړي، نړيوال ټرانزيټ پراخ كړي او د مركزي اسيا هيوادونو په يوه بې خطره ټرانزيټي او سوداګريزه نقطه بدل سي.

**درنښت**

**اداره**

## له۱۴ وزارتونو او امارتي ادارو سره د عوايدو د تحليل او ارزوني په تړاو ناسته وسوه



> **ټاكل سوېو عوايدي اهدافو ته د رسېدو او د احتمالي عوايدي كسر د مخنيوي په موخه د يو شمېر وزارتونو او امارتي ادارو د عوايدو د راټولولو بهير د ارزوني ترڅنګ غوره عوايدي فرصتونه هم ور په ګوته سول.**

د ماليې وزارت د عوايدو لوى رياست د حمايوي مرستيال مولوي منصور الحق ذاكر په مشرۍ د (۱۴) وزارتونو او امارتي ادارو له استازو سره د غير مالياتي عوايدو د تحليل او ارزوني په تړاو ناسته وسوه. په دغه ناسته كې د يادو وزارتونو او ادارو د عوايدو د را ټولولو بهير په هر اړخيز ډول و ارزول سو او د يادو ادارو له پاره د ټاكل سوي عوايدي هدف وضعيت ته كتنه وسوه. همداراز د ملي عوايدو پر شفاف راټولولو، د غير مالياتي عوايدو د سرچينو پر زياتولو، پر ولس باندي د مالياتي بوج كمولو او په ټوله كې د مالياتي پروسې د ښه تطبيق په اړه بحثونه وسول او ټينګار وسو، چې مالياتي ادارې دي د عوايدو د را ټولولو پر مهال له ولس سره په پوره شفقت او مهربانۍ سره چلند وكړي. په پاى كې د وزارتونو او ادارو له پاره د احتمالي عوايدي كسر د مخنيوي په موخه لازمي سپارښتني وسوې او غوره عوايدي فرصتونه ورته په ګوته سول؛ تر څو ټاكل سوي عوايدي هدف ته په ښه ډول ورسېږي.

## آمريت مستقل سمع شكايات مقام وزارت ماليه به (۱۳) شكايت رسيدگى كرده است





آمريـت مسـتقل سـمع شـكايات مقـام وزارت ماليـه رسيدگى به تمام شكايات ناشى از فساد، كم كارى، سهل انگارى و برخورد غير مسئولانه برخى مسئولين و كارمندان ايـن وزارت را بـه عهـده دارد و شـكايات واصلـه را مستقيماً با مقـام وزارت شريـک مى سازد. ايـن آمريـت از اول سـنبله الـى اخيـر سـنبله سـال جارى (۱٤۰۳) مجموعاً (۱٦) شـكايت را دريافـت و استـماع نمـوده كـه از آن جملـه بـه (۱۳) شـكايت رسـيدگى صـورت گرفتـه، (۲) شـكايت ديگـر تحـت بررسـى قـرار دارد و يـك شـكايت ديگـر هـم بنابـر نبـود معلومـات كافـى و عـدم حضـور شـاكى، از طـرف ايـن اداره غيـر مؤجـه خوانـده شـده اسـت. ايـن شـكايات در بخـش هـاى امـلاک، تـداركات، مالـى و منفكـى بـوده كـه بـه اسرع وقـت از طـرف ايـن آمريـت رسـيدگى صـورت گرفتـه اسـت. تمـام هموطنـان مـى تواننـد شـكايات، پيشـنهادات و نظريـات اصولـى شـان را در رابطـه به بخش هـاى مختلف وزارت ماليه به خصوص منابع عوايـدى، اصلاحـات در بخـش اسـتخدام از طريـق ايميـل، واتـس اپ، تليفـون، حضـورى و صندوق شـكايات بـا اين اداره شريک سـاخته كـه آمريـت سـمع شـكايات بعـد از طبقـه بنـدى شـكايات بـه آن بطـور شـفاف و بموقـع رسـيدگى خواهـد نمـود.

آدرس هاى ارتباطى آمريت سمع شكايات؛

ايميل: Officialcomplaints@mof.gov.af

وتس اپ: ۰۷٤٥۷٦٥۷٥٦

تليفون: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳



ماليې وزارت د مركزي رياستونو د كاركوونكو لپاره د كمپيوټر زده كړي ابتدايي كورس جوړ سو

م ۲



تېره اونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو كې په زياته كچه قاچاقي توكي نيول سوي دي

م ۲



صد تن از محافظين قطعه محافظت و عمليات هاى خاص تنفيذى وزارت ماليه از پنجمين دورۀ آموزشى فارغ گرديدند

م ۲



د تشخيصي نمبر په اخيستلو كې نوري اسانتياوي هم رامنځته سوي

م ۲



مديريت و روانشناسى پول

م ۳




د ټاپي د ګازو نلليكه د يوه غټ سراب حيثيت لري

م ٤

# ماليې وزارت د مرکزي رياستونو د کارکوونکو لپاره د کمپيوټر زده کړي ابتدايي کورس جوړ سو



د ماليې وزارت د بشري سرچينو رياست د دغه وزارت د مرکزي رياستونو د کارکوونکو لپاره د کمپيوټر زده کړي ابتدايي کورس جوړ کړ.
په هغه غونډه کي، چي په همدې مناسبت خيبر د غونډو په تالار کي جوړه سوې وه، د دغه وزارت اداري معين مولوي دوست محمد مخلص، د بشري سرچينو رئيس مولوي احمدشاه شاکر او يو شمېر نورو مسوولينو ګډون کړی وو.
د بشري سرچينو رئيس د دغه کورس په پرانيستې وينا کي وويل، چي په دغه نظام کي د هر شخص پوهي او وړتياوو ته په کتو مناسب بستونه او مسئوليتونه موجود دي، هر شخص بايد په خپله مسلکي برخه کي خدمت وکړي. تاسي، چي دغه بستونه اشغال کړي دي، د غوره پر مخ بيولو لپاره ئې بايد وړتياوي او پوهه په ځان کي پيدا کړئ، دغه پروګرام هم په همدې موخه جوړ سوی؛ نو له دې ډول امکاناتو څخه په پوره ګټه اخيستني هم خپلي وړتياوي لوړي کړئ او هم د نظام د پياوړتيا لپاره کار وکړئ.
اداري معين د خپلو خبرو په ترخ کي د هيواد د پرمختګ او د قرآن کريم او اسلامي معارف په اړه معلومات وړاندي کړل او زياته ئې کړه، موږ دلته د زده کړي او خلکو ته د غوره خدمت وړاندي کولو په موخه راټول سوي يوو، اوسنی عصر د ټيکنالوژۍ عصر دئ او ټيکنالوژي د هيواد په پرمختګ کي خورا اغېزمن رول لوبوي؛ نو له سته امکاناتو څخه په استفادې او د ټيکنالوژيکي مسايلو په زده کړي سره دغه نظام، چي د يوه نيالګي په څېر دئ، ثمر ته ورسوئ. غونډه د خير په دعا پای ته ورسېده.
د يادوني وړ ده، چي دغه پروګرام به دوې مياشتي دوام وکړي، چي ګډونوالو ته به پکښي د ورډ او اېکسيل پروګرامونه تدريس سي.

# صد تن از محافظین قطعه محافظت و عملیات های خاص تنفیذی وزارت مالیه از پنجمین دورۀ آموزشی فارغ گردیدند

صدتن از محافظین قطعه محافظت و عملیات های خاص تنفیدی وزارت مالیه از پنجمین دورۀ آموزشی (دروس عقیدتی، حقوقی، مسلکی، نظامی و گمرکی) دو ماهه فارغ گردیدند.
در محفل که به همین مناسبت در اکادمی ملی عواید و گمرکات دایر گردیده بود، مولوی دوست محمد مخلص، معین اداری وزارت مالیه، شیخ عبدالباقی حقانی، رئیس اداره ملی امتحانات، حافظ محمد نور عبید، قومندان عمومی قطعه محافظت و عملیات های خاص تنفیذی و شماری از رؤسا وزارت مالیه و مسئولین قطعه متذکره اشتراک داشتند.
نخست مولوی مدثر مدقق، مدیر تعلیم و تربیه قطعه محافظت و عملیات های خاص تنفیذی وزارت مالیه در رابطه به دستآوردهای قطعه متذکره معلومات ارائه نموده افزود، ما تلاش خواهیم کرد تا نصاب تعلیمی بهتر ترتیب و از علوم عصری استفاده بهینه صورت بگیرد.
سپس، مولوی دوست محمد مخلص، معین اداری طی سخنانش گفت، خداوند امر نموده است که با تمام توان در مقابل دشمنان اسلامی اعم از کفار، منافقین و غلامان کفار بایستید و حیله و نیرنگ آنها را دفع کنید، روی این ملحوظ مجاهدین از هر طریق ممکن باید تقویت شوند تا از سرحدات وطن، جال و مال مردم حفاظت کنند.
به دنبال آن، حافظ محمد نور عبید، قومندان عمومی قطعه محافظت و عملیات های خاص تنفیذی طی سخنانش ضمن تبریکی فراغت منصوبین این قطعه از دوره دو ماهۀ آموزشی خاطر نشان ساخت که در نظام افراد مختلف وجود دارد که میخواهند به نظام و مردم خدمت کنند. تعدادی بخاطر پیشرفت خود و تعدادی هم به خاطر پیشرفت نظام. هدف منصوبین امارت اسلامی تقویت و پیشرفت این نظام اسلامی است و به مردم به نمایندگی از این نظام اسلامی خدمت می کنند.
بعداً شیخ عبدالباقی حقانی، رئیس اداره ملی امتحانات در سخنانش گفت، برای افغانها حاکمیت یک نظام اسلامی اهمیت فراوان دارند و بخاطر آن سالها قربانی داده اند. دلیل آن هم این است که در یک نظام اسلامی هر آنچه می خواهند فراهم است، امنیت وجود دارد، حافظت از مال، جان و نوامیس، ملکیت و وطن از اولویت های حکومت است. دین و اوامر الهی تطبیق می شود، منکرات نیست. پس خدمت به این نظام و تقویت آن نیز



ارزشمند بوده و از افضل عبادات است. خدمت در هر بخش که باشد برای نظام و تقویت آن اهمیت دارد مانند پرزه جات ماشین برای حرکت کردن آن.
در اخیر مجاهدین فارغ شده برنامه نمایشات نظامی و ورزشی اجراء کردند و به محافظین فارغ شده تصدیقنامه نیز اعطاء گردید.
قابل یاد آوریست که قطعه محافظت و عملیات های خاص تنفیذی وزارت مالیه مسئولیت حفاظت از تأسیسات این وزارت، جلوگیری از قاچاق و جمع آوری عواید بطور شفاف را به عهده دارد.

# د تشخيصيې نمبر (TIN) په اخيستلو کي نوري اسانتياوي هم رامنځته سوي




د تشخيصيې نمبر مرکزي آمريت د هغو حقيقي او حکمي اشخاصو له پاره، چي له مالياتي قوانينو سره سم د ماليې د ورکړي تابع وي د پېژندني شمېرې يا تشخيصيه نمبر د ثبتولو او وېشلو په برخه کي فعاليت کوي.
دغه آمريت، چي د عوايدو لوی رياست د سيستمونو رياست تر چتر لاندي خپلي چاري پر مخ وړي د روان (۱۴۰۳) کال په دوهمه ربعه کي ئې په اړوند برخه کي د پام وړ اسانتياوي برابري کړي دي.
ياد آمريت د اداري وسايلو د خونديتوب او نورو اړينو موخو په منظور د (ټي آی اېن - TIN) ودانۍ د امنيتي کامرو تر پوښښ لاندي راوستي، د کيو ماشين د نوبتي ټيکټ په مټ ئې د مراجعينو د ګڼې ګوڼې مخنيوی کړی، د مراجعينو د اسانتيا لپاره ئې دوه پوړيزه کاري صالونونه فعال کړي، د تشخيصيې نمبر په اخيستلو کي ئې اړينه چټکتيا او روڼتيا رامنځته کړي، د عامه پوهاوي په وسيله ئې د تشخيصيې نمبر ارزښت خلکو ته په پراخه کچه روښانه او بيان کړی او له دې لاري ئې باقيدار بنسټونه خپلو مالياتي مکلفيتونو ته اړ ايستلي دي.
همداراز دغه آمريت په ټول هيواد کي (۱۳۲۹۱۹) تنو او په مرکز کي (۱۵۹۶۰) تنو ته تر تائيد وروسته د تشخيصيې نمبرونه وېشلي دي. (۱۲۱۵) بنسټونه ئې تازه د سيګټاس په سيستم کي ثبت کړي دي، په (۱۲۷٤) بنسټونو کي ئې اړين بدلونونه رامنځته کړي او په سلګونو د تشخيصيې تکراري نمبرونه ئې له منځه وړي دي، چي ورسره په اړوندو چارو کي د پام وړ پرمختګ او غوره والی رامنځته سوی دئ.

# د پکتيا ګمرک د هنګرونو د جوړولو چاري (۵۰) سلنه پر مخ تللي دي



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست له لوري د سوداګريزو توکو د خونديتوب په موخه د پکتيا په ګمرک کي د (۳۳) ميليونه افغانيو په ارزښت د دوه بابه هنګرونو د جوړولو چاري په چټکۍ سره رواني دي، چي تر دې مهاله ئې رغنيزي چاري (۵۰) سلنه پر مخ تللي دي.
د يادو هنګرونو د جوړولو لګښت د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول کېږي، چي چاري به ئې ژر بشپړي او په جوړېدو سره به ئې سوداګرو ته په اړوندو برخو کي زياتي اسانتياوي را منځته سي.
د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د هيواد د ګمرکونو بيا رغوني، عصري کولو او ټولو اړينو امکاناتو برابرولو ته بشپړ ژمن دئ او په دې برخه کي ئې ګڼې پروژې پلي کړي دي.

# تېره اوونۍ د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي په زياته کچه قاچاقي توکي نيول سوي دي



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نيمروز، فراه، هرات او ننګرهار ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي په زياته کچه قاچاقي توکي نيولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي.
په نيول سويو توکو کي (۱۳۵۷٦) کيلو ګرامه مالګه، (۳۵۳۰) کيلو ګرامه رُب، (۴۹۲۰) کيلو ګرامه نخي تار، (۱٦۲۰) کيلو ګرامه غوړي، (۱۳۵۸) کيلو ګرامه مکروني، (۱۴۰۰) کيلو ګرامه لواشک، (٦۱٦) کيلو ګرامه د پالکو تخم، (۲۰۰) کيلو ګرامه پلاستيکي کڅوړې، (۲۲۰) کيلو ګرامه د لوښو وينځلو مايع، (۳۲۰) کيلو ګرامه سينجاق، (۱۴۳) کيلو ګرامه لوبيا، (۱۳۵) کيلو ګرامه وچې شيدې او (۷۰) کيلو ګرامه طبي سامان الات شامل دي.
نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو لپاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.
د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هيواد کي دوامداره فعاليت کوي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي وليږدوي.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# مدیریت و روانشناسی پول

سعید رزمنده

مدیریت سرمایه و پول یکی از مهم ترین بخش های جهان امروزی است شاید برای ما و شما بارها اتفاق افتاده باشد که خواسته باشیم چیزی را بخریم اما سرمایه کافی برای آن نداشتیم یک تبصره جالب درباره سرمایه همیشه در خاطر من مانده است که می گوید: شما زمانی پولدار هستید که از خرج خود بیشتر پول بدست بیاورید!

بله! همه ما در این تبصره شامل می شویم خیلی از ما معاشات خوبی داریم اما همیشه در اخیر ماه جیب مان خالی است در اینجا آیا تا به حال فکر کرده اید که چرا؟

## مدیریت پول

تا زمانیکه شما عنصر پول را نشناسید شما نخواهید توانست این موجودیت را کنترل کنید امروزه در تمام دنیا سعی می شود که سران دولت ها یا اقتصاد دانان باشند و یا یک تیم قوی افتصاد دانان داشته باشند. البته قابل ذکر است اقتصاد دان تا کسی از این رشته فارغ شده فرق می کند آیا برای شما جالب نیست که امروزه بانک ها چگونه کار می کنند و صاحبان آن با اینکه مشتریان بسیار کمی دارند چرا هر روز پولدارتر می شوند؟ افراد مختلف پیش زمینه مختلفی درباره پول دارند هر کس پول را به گونه خود تعریف می کند:

۱- توانایی برای خریدن
۲- ثروت و دارایی
۳- اندوخته زمان نیاز
٤- یا هم سرباز



نظر به تعاریف فوق شما خود را جز کدام یک از این افراد می دانید. اکثریت ما و شما جز سه گروه اول تا سوم هستیم ما همیشه پول را برای خریدن مصرف کردن اندوختن و صندوق زمان نیاز دانسته ایم بخاطر همین هم است که همیشه جز اکثریت نادار هستیم. بله پولداران و سرمایه داران جهانی پول را منحیث سرباز استفاده می کنند "آنها سربازان خود را می فرستند تا برایشان ثروت بیشتر بیاورند" شاید الان بگوید خوب چگونه این امکان دارد؟ و راه اش چیست؟ خوب منم پول دارم که این کار را کنم اما راهی را نمی شناسم؟ در اینجا باید خاطر نشان کنم اولین قدم برای رسیدن به اوج آگاهی درباره همان مسئله است به گونه مثال اگر شما می دانستید روئسای بانک ها چگونه تجارت می کنند پس شما الان باید یا رئیس یک بانک می بودید یا جز هیئت آن پس آگاهی درباره سیستم کاری آنها اولین قدم است که در این مقاله به شیوه های آن پرداخته نخواهد شد چون مبحث طولانی و مسلکی است اما در کل برای ورود به جهان گروه چهارم شما باید به نکات ذیل آگاهی داشته باشید:

۱- آگاهی درباره بازارها
۲- آگاهی استراتیژی های بازار و روند بازار
۳- داشتن روانشناسی بالایی کنترل احساسات و مدیریت بازار
٤- داشتن استراتیژی مدیریت سود و زیان

در اینجا می توان داستانی را که موریس در کتاب روانشناسی پول تعریف کرده را بیان کرد در این داستان فردی تمام عمر خود را در جستجو و دریافت پول گذرانده بود اما در اخیر تصادفاً در اثر مریضی فوت کرده و تمام دارایی های وی باقی ماند. ورژن واقعی این داستان قضیه پیر زنی بود که تمام عمر خود را گدایی می کرد اما در اخیر در یک تصادف مرد وقتی جایی که وی زنده گی می کرد را مامورین پولیس جستجو کردن به کوهی از پول مواجه شدن که طی سال ها گدایی دست یافته بود. بله خصاصت در امر پول این نتیجه را در پی دارد. الله متعال در قرآنکریم می فرماید:
آیه ۲۹ سوره اسراء

ترجمه آیه: "و نه دست خود را به گردنت بسته بدار (که هیچ انفاقی نکنی) و نه آن را کاملا باز گذار که (چیزي براي خودت نماند و) سرزنش شده و حسرت خورده (به کنجي) نشيني."

در این کتاب موریس درباره احساسات در کنترل سرمایه تاکید کرده است یعنی خرید و یا مصرف هیجانی ممنوع است به گونه مثال وقتی شما یک چیز را می پسندید و می خواهید آنرا بخرید و این خرید به نظر شما هزینه اضافی هست ۵ ثانیه نفس خود را حبس کنید و دوباره فکر کنید اکثریت مشکلات اقتصادی از خریدهای هیجانی ایجاد می شود همیشه به یاد داشته باشید پول ابزار است و احساسات شما مثل ترس و اضطراب باعث تصمیمات اشتباه می شود پس باید همیشه درباه توان مالی خود آگاه باشید.

ادامه در شماره بعدی...

# اعلانات داوطلبی

### د داوطلبي خبرتیا

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند د مدینه مارکېټ (۳) بابه دوکانونه په جلا - جلا ډول د یو کال لپاره داوطلبۍ له لارې اعلان ته وړاندي کړي.
۱- د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱ نمبر دوکان، چي ۱۲ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۰۰۰۰۰) افغانۍ ده.
۲- د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱٦ نمبر دوکان، چي ۱۸.۸۱ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۱۱۵۰۰۰) افغانۍ ده.
۳. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۱۷ نمبر دوکان، چي ۸.۵۱ متره مربع مساحت لري او میاشتنی ابتدایي کرایه ئې (۵۵۰۰۰) افغانۍ ده.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ۳٤,٥١٧٤١-٦٩,١٧٧٢٤
هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورتني ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (میزان /۰۱/ ۱۴۰۳) څخه تر (میزان /۱۴۰۳/۷) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د داوطلبۍ مجلس: د (میزان /۱۴۰۳/۰۸) نېټه، د سهار ۰۹:۰۰ بجې ترسره کېږي.

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان درنظردارد، وسایل تکنالوژی ریاست عمومی عواید وزارت مالیه - دارای نمبر قرارداد (٥٩-NCB/G/١٤٠٣/MOF) را با شرکت لپ کام انترنیشنل دارنده نمبر جواز ١٧٢٤٤-٠١٠١ و نمبر تشخیصیه مالیه ٩٠٠١٤٢٩٦٩ را به قیمت مجموعی مبلغ (٢١،٩٧٣،٦٨٨) بیست یک میلیون و نو صدو هفتاد سه هزارو ششصدو هشتادو هشت افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات کابل ارائه نماید.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکرو طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، منزل دوم.

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، (پروژه برق سولری گمرک کندهار وزارت مالیه)، دارای نمبر قرارداد (Rebid-٠٢٧-NCB/G/١٤٠٣/MOF) را با شرکت خدمات لوژستیکی میلاد نور به قیمت مجموعی مبلغ: (٥,٤١٨,٩٧٥) پنج میلیون و چهارصدو هژده هزارو نه صدو هفتادو پنج افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ۷ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.
آدرس : وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات،آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

### د داوطلبي خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرایطو برابر تولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د ماليې وزارت د عوایدو د سیستم ریاست اړوند د ټکنالوژۍ ٦ قلمه توکو د تدارك) په پروژه کي چي تشخیصیه نمبر ئې (٦٧٠-G/١٤٠٣/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.
د اړیکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسي ټاکلي نېټه: د (میزان/۱۱/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۱:۰۰ بجې.
د آفرگشایي ټاکلي نېټه: د(میزان/ ۱۴۰۳/۲۱) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمین: یوسل او څلویښت زره (۱٤۰۰۰۰) افغانۍ.
ځای: د افغانستان اسلامي امارت د چارو اداري لوی ریاست اړوند د ملي تدارکاتو اداري رسمي ویب سایټ.
په څنډ رسېدلي او انترنیتي افرونه د منلو وړ نه دي.

### د داوطلبي خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرایطو برابر تولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د ماليې وزارت د گمرکونو نفتي موادو د لابراتوار ماشینونو د تدارك) په پروژه کي چي تشخیصیه نمبر ئې (٨٣٦-G/١٤٠٣/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.
د اړیکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسي ټاکلي نېټه: د (میزان/۱۰/ ۱۴۰۳) له غرمې وروسته ۰۲:۰۰ بجې.
د آفرگشایي ټاکلي نېټه: د(میزان/ ۱۴۰۳/۲۱) له غرمې وروسته.
د آفر تضمین: پنځه میلیونه او پنځه سوه زره (۵۵۰۰۰۰۰) افغانۍ.
ځای: پښتونستان واټ، ماليې وزارت، د تدارکاتو ریاست او د چارو لوی ریاست اړوند د ملي تدارکاتو اداري رسمي ویب سایټ .
په څنډ رسېدلي او انترنیتي افرونه د منلو وړ نه دي.

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)









# د ټاپي د ګازو نللیکه د یوه غټ سراب حیثیت لري





د اروپا سوداګریز خبرونه ـ bne INTELLINEWS په نوم یوې المانۍ رسنۍ د ټاپي د ګازو نللیکې په هکله د بروس پینیَر ـ Bruce PANNIER په نوم لیکوال تحلیل خپور کړی دئ. په دې شننه کې د ټاپي پروژې د کار پیل په تاریخوار ډول بیان سوی دئ. تحلیل په لومړي سر کې د افغانستان د اسلامي امارت د رئیس الوزاء ملا محمد حسن اخوند او د ترکمنستان له خوا د قربانقولي بېردي محمدوف په ګډون د سلګونو ساختماني کارګرانو په حضور و مراسمو ته اشاره کوي. بېردي محمدوف د دې پروژې مراسم د ترکمنستان او افغانستان له پاره یوه واقعي تاریخي پېښه وبلله. لیکنه ورپسې د پروژې ۳۰ - کلن تاریخ ته توجه کوي، چې وایي د څلورو هیوادونو تر منځ یوه مشترکه پروژه ده، کوم چې وایي په اړه ئې ډېرې ناستې وسوې. تر دې وروسته د دوهم ځل پیل (۱۱./ سپټمبر) د مراسمو په اړه وایي، چې دا تاریخ په واقعیت کې په افغانستان کې د پروژې پیل دئ. تحلیل وروسته د څلور واړو هیوادونو د تلاښ په هکله خبري کوي، حتی وایي د ترکمنستان مرکزي بانک د دې موقع په ویاړ ځانګړې یادګاري سکې صادرې کړلې. د «التن عصر» په نوم ترکمنۍ رسنۍ په حواله کاږي، چې ترکمنو د خپلې دې نللیکې د (۲۱٤) کېلومیترۍ چاري مخکې لا بشپړې کړې وې. دا تحلیل «امیدونه بیا راژوندي سول» تر بغلي/ فرعي سرلیک لاندې وایي، چې په افغانستان کې د اسلامي امارت راتګ په ترکمنستان کې هیلې را ژوندۍ کړې، چې وایي په پایله کې به ټاپي و رغول سي. لیکوال زیاتوي، چې د اسلامي امارت په راتګ سره د امنیت سمون په حقیقت بدل سو، خو وایي دا د نړیوالو بندیزونو لامل دئ، د خارجي پانګوالو موندل ستونزمنوي، کوم چې د نللیکې اوږدوالی و (۱٫۸۰۰) کېلومیتره او او لګښت ئې نیژدې (۱۰) بیلیونو امریکایي ډالرو ته رسېږي. په تحلیل کې د اسلامي پراختیایي بانک ـ IsDB او اسیایي پراختیایي بانک - ADB د ګډون او لېوالتیا خوا ته هم اشاره سوې ده، چې وایي اسلامي پراختیایي بانک حتی ترکمنستان ته په (۲۰۱٦)ز کې (۵۰۰) میلیونه امریکایي ډالر لا هم په پور ور کړل. په لیکنه کې راغلي دي، چې ترکمنستان په مارچ کې افغانستان ته د دریو میاشتو له پاره متخصصان واستول او له بلې خوا بیا ترکمني سفیر په کابل کې د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو له وزیر ښاغلي امیر خان متقي صاحب سره وکتل او همدارنګه د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزیر رشید مرادوف له پاکستاني چارواکو سره وکتل، چې وایي دا ټولي هڅې د ټاپي پروژې د خوځښت معنی ور کوي.

> "په افغانستان کې د اسلامي امارت راتګ په ترکمنستان کې هیلې را ژوندۍ کړې، چې وایي په پایله کې به ټاپي ورغول سي.
>
> د ټاپي پروژې مراسم د افغانستان او ترکمنستان لپاره یوه واقعي تاریخي پېښه ده.
>
> د ترکمنستان مرکزي بانک د دې موقع په ویاړ د ځانګرو یادګاري سکو د صدور حکم وکړ.
>
> په دې ستره پروژه کې اسلامي پراختیایي بانک او اسیایي پراختیایي بانک د ګډون لېوالتیا لري."




# "Scores of Contrabands Seized in 4 Provinces" - Mobile Surveillance Staff





Mobile surveillance staff of the General Directorate of Customs of MoF seized a large amount of contrabands during last week in different areas of Nimroz, Farah, Herat and Nangarhar provinces, which the smugglers wanted to bring secretly to Afghanistan. Among the seized goods are 13,576kg of salt, 3,530kg of tomato paste, 4,920kg of cotton thread, 1,620kg of oil, 1,358kg of macaroni, 1,400kg of fruit leather or fruit-roll, 616kg of spinach seeds, 200kg of plastic bags, 220kg of dishwashing liquid, 320kg of pins, 143kg of beans, 135kg of milk powder and 70kg of medical supplies and equipment included. The seized contrabands and accused persons have been handed over to the relevant customs for further proceedings. Notably, the mobile surveillance staff of MoF is constantly working throughout the country and does not allow anyone to import or export illicit.


## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.

ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳

/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰ / ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )

برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af





## د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!

اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!

اګر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!

تماس: ۲۲۱



شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.